# د حضرت ناحومِ نبی کِتاب

# ـ ماخذ انبياء

## پېژندګلو

د حضرت ناحوم پېغام دا دے چې خُدائ پاک د دُنيا معاملې په خپل قابو کښې ساتی. د دُنيا د لوئ نه لوئ يو طاقت هم د خُدائ پاک منصوبه د مکمل کېدو نه نهٔ شی ايسارولے. هغه په هر څهٔ قادر دے. په لويو لويو بادشاهانو ترقی او زوال راغلے دے، خو په مکمل تاريخ کښې څوک هم تر اوسه پورې د دې قابل شوے نهٔ دے چې د خُدائ پاک طاقت له شکست ورکړی. او هم دا د هغهٔ د منونکو دپاره د تسلیٔ باعث خبره ده، کهٔ هر څومره هم حالات خراب شی خو د هغوئ يقين هم په خُدائ پاک وی. حضرت ناحوم د نينوه خلقو له خبردارے ورکړو چې زر به د اسور خلق په تاسو حمله وکړی. خو حضرت ناحوم غرورناکو او طاقتورو اسوريانو له هم خبردارے ورکړو چې هغوئ به هم تباه شی کهٔ چرې توبه يې ونهٔ کړه او خُدائ پاک ته راونهٔ ګرځېدل. هغه وفادارو له دعوت ورکوی چې د مصيبت په وخت کښې مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته راوګرځئ او ورسره وعده کوی چې خُدائ پاک به د هغوئ حفاظت وکړی. د حفظ کولو دپاره ۱:۷ آيت "مالِک خُدائ ښهٔ دے، د تکليف په وخت کښې هغه مضبوطه قلعه ده. او هغه د هغوئ حفاظت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی څوک چې په هغهٔ باور کوی.“

## د مالِک خُدائ غصه د نینوه خلاف

۱ ۱ د ناحوم القوشی د رویا په کِتاب کښې د نینوه په
حقله پېغام. ۲ مالِک خُدائ غېرتی او بدل اخستونکے
خُدائ پاک دے، مالِک خُدائ بدل اخلی او د قهر نه ډک
دے. او مالِک خُدائ د خپلو دشمنانو نه بدل اخلی او خپله
غصه د خپلو دشمنانو خلاف جاری ساتی. ۳ مالِک خُدائ
په مزه غصه کېږی، خو هغه ډېر طاقتور هم دے، مالِک
خُدائ به مجرم بغېر د سزا پرېږدی نهٔ. د هغهٔ لاره په تېزه
هوا او طوفان کښې ده، او ورېځې د هغهٔ د پښو دوړې دی.
۴ هغه سمندر رټی او اوچوی، هغه ټول سیندونه اوچوی. د
بسن او د کرمل شینکے اوچوی، او د لبنان ګلونه مړاوی
کوی. ۵ د هغهٔ د وړاندې غرونه لړزیږی، او غونډئ ویلی
کیږی. او زمکه د هغهٔ په حضور کښې لړزیږی، دُنیا او هر
هغه څوک چې په کښې اوسیږی. ۶ څوک د هغهٔ قهر ته
ودریدے شی؟ څوک د هغهٔ سخته غصه برداشت کولے
شی؟ د هغهٔ قهر لکه د اور په شان نازل شوے دے، ګټان د
هغهٔ په وړاندې ټوکړې ټوکړې شول. ۷ مالِک خُدائ ښهٔ
دے، د تکلیف په وخت کښې هغه مضبوطه قلعه ده. او هغه
د هغوئ حفاظت کوی څوک چې په هغهٔ باور کوی. ۸ خو
هغه به په یو زوروَر سېلاب سره د نینوه خاتمه وکړی، هغه به
خپل دشمنان د لحد تیارو ته ورسوی. ۹ هغوئ څوک چې
د مالِک خُدائ خِلاف منصوبه جوړوی هغه به یې په یو ګزار
سره سراسر برباد کړی. او د دویم ګزار ضرورت به ورته نهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی. ١٠ د هغهٔ دشمنان به د هغه سړو غونډې چې په ازغو
کښې راګېر وی او چې په خپلو شرابو نشه وی، هغوئ به لکه
د اوچو بوسو په شان وسوزی. ١١ ستا نه، اے نینوه، څوک
راغلو چې د مالِک خُدائ خلاف منصوبې جوړوی، څوک
چې بېکاره مشوره ورکوونکی دی. ١٢ مالِک خُدائ داسې
فرمائی چې، "اګر کهٔ اسوریان اِتحادیان لری او بېشمېره
دی، هغوئ به ورک او تباه شی. اګر کهٔ تاسو ما په تکلیف
کړئ، اے یهوداه، خو زهٔ به تاسو نور په تکلیف نهٔ کړم. ١٣
اوس به زهٔ د اسوریانو جغ ستاسو د څټ نه اخوا کړم او
ستاسو بیړۍ به وشلوم." ١٤ مالِک خُدائ ستا په حقله حکم
کړے دے، اے نینوه، "ستا اولاد به نهٔ وی چې ستا نوم پرې
پاتې شی. زهٔ به هغه جوړ شوی تصویرونه او بُتان تباه کړم
کوم چې ستاسو د معبودانو په عبادتخانو کښې دی. زهٔ به
ستا قبر تیار کړم، ځکه چې تهٔ بدچلنه یې." ١٥ په غرونو
نظر د هغه چا پښو ته واچوئ څوک چې ښهٔ زیرے راوړی،
او د امن و امان پېغام او د خلاصون اعلان کوی. اے یهوداه
خپل اخترونه وکړئ، او خپلې عامې منښتې کوئ. بدعمله به
نور هیڅکله په تاسو قبضه نهٔ کوی، هغوئ به په مکمل توګه
تباه شی.

## د نینوه تباه کېدل

٢ ١ اے نینوه، یو حمله کوونکے ستا خلاف راروان
دے. د قلعې څوکیداری کوه، د لار څوکیداری کوه، خپل
ځان په حفاظت کړه، خپل ټول قوت استعمال کړه. ٢ اګر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کهٔ تباه کوونکو هغوئ تباه کړی دی او د هغوئ د انګورو
باغونه يې وران ويجاړ کړی دی خو مالِک خُدائ به د يهوداه
شان او شوکت بيا قائم کړی لکه د اِسرائيل د شان او
شوکت په شان. ۳ د فوجيانو ډالونه سرهٔ دی، جنګيالو يې
سرې جامې اغوستې دی. په جنګی ګاډو لګېدلې اوسپنې
ځلېدې په هغه ورځ چې دوئ تيار وُو، او د دِيار نېزې يې په
هوا کښې خوځولې. ۴ جنګی ګاډی د طوفان غوندې په
کوڅو کښې تېرېږی، په چوکونو کښې مخکښې او وروستو
ځی راځی. هغوئ لکه د چراغونو په شان پړقيږی، هغوئ لکه
د برېښنا په شان په تېزه تېرېږی. ۵ بادشاه خپلو آفسرانو
ته چغې وهی، هغوئ په خپل رفتار کښې په لار تيندک خوری.
د ښار دېوال ته په تېزه ورخلاص دی چې ځان ته د حملې
مورچې تيارې کړی. ۶ د سيند دروازې کولاو کړے شوې
دی، او محل په راغورزيدو دے. ۷ د هغې مَلِکه بربنډه
بوتلے شوه. د دې غلامانې جينکۍ لکه د ګوګوشتکو په شان
ژړا کوی او هغوئ خپلې سينې وهی. ۸ نينوه لکه د تالاب
په شان دے او د دې اوبهٔ روانې دی. ”ايسار شئ، ايسار
شئ،“ هغوئ چغې وهی، خو هيڅ څوک شا ته نهٔ ګوری. ۹
سپين زر لوټ کړئ. سرهٔ زر لوټ کړئ. د دې د ذخيرې څهٔ
حد نشته، او د دې د ټولو خزانو دولت ډېر زيات دے. ۱۰
هغه لوټ کړے شوه، خالی کړے شوه، ورانه ويجاړه شوه.
زړونه کمزوری شول، پښې بې‌دمه شوې، بدنونه په رپېدو
شول، هر مخ زېړ شو. ۱۱ اوس نينوه هغه د زمرو غار چرته
دے، هغه ځائ چرته چې هغوئ خپلو بچو له خوراک
ورکولو، چرته چې زمری او زمرۍ، او د دې بچی بغېر د څهٔ
ويرې نه ګرځېدل؟ ۱۲ زمری د خپلو بچو دپاره کافی ښکار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړو او د خپلې زمرئ دپاره د هغهٔ ښکار په مرئ غلې شو،
خپل غار يې د ښکار د غوښې نه ډک کړو. ۱۳ زهٔ ستاسو
خِلاف يم، مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. زهٔ به ستاسو
جنګی ګاډئ وسوزوم، او تُوره به ستاسو ځوانان زمری
ووژنی. زهٔ به تاسو ته په زمکه ښکار پرې نهٔ ږدم. ستاسو د
پېغام ورکوونکو آوازونه به نور نهٔ اورېدلے کيږی.

## افسوس په نينوه

۳ ۱ افسوس دې وی په وژونکی ښاريې، چې د دروغو او
د لوټ شوی مال نه ډکه ده، کله هم د مظلومانو نه خالی
شوی نهٔ ده. ۲ د کوړو ټسار ته، د پايو چغار ته، د آسونو
ترپار ته، او د جنګی ګاډو درزار ته غوږ ونيسئ. ۳ په
آسونو سوارهٔ حمله کوی، پړقېدونکې تُورې او ځلېدونکې
نېزې ښکاری. هر طرف ته بې‌شمېره زخميان، د مړو ډيری،
بې‌شمېره مړی دی، او خلق په لاشونو تيندکونه خوری. ۴
ځکه چې نينوه د يوې بې‌حيا زناکارې په شان ده، چې ناز
نخرې کوی، او خپل ښائست لکه د جادو استعمالوی، چا
چې په کنجرتوب سره قومونه خپل غلامان کړی دی او په
خپل جادو سره يې خلق راګېر کړی دی. ۵ زهٔ ستا خلاف
يم، مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. زهٔ به ستا لمن ستا په
مخ دراوچته کړم. زهٔ به قومونو ته تا لغړه کړم او مُلکونو ته
به دې وشرموم. ۶ زهٔ به په تا ګند دروغورزوم، زهٔ به تا
سپکه کړم او تا نه به يو تماشه جوړه کړم. ۷ هغه ټول
ځوک چې تا ګوری هغوئ به تا نه وتښتی او وائی به، د نينوه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه کنډر جوړ شوے دے، څوک به د هغې دپاره ماتم کوی؟
څوک به هم نهٔ وی چې تا له تسلی درکړی؟ ٨ آيا تهٔ د
تيبس نه ښهٔ يې، چې د نيل په درياب باندې آباد دے، چې
ګېرچاپېره ترې نه اوبهٔ دی؟ درياب د هغې دفاع وه او اوبهٔ د
هغې دېوالونه. ٩ ايتهوپيا او مِصر د دې لامحدوده زور وو،
فوط او ليبيا د دې اِتحاديان وُو. ١٠ خو اوس هغه ونيولے
شوه او جلاوطنه کړے شوه. د هغې بچی د هرې کوڅې په
سر کښې ټوکړې ټوکړې شُو. د غلامۍ دپاره د هغې په مشرانو
پچه واچولے شوه، او د هغې ټول مشران په زنځيرونو وتړلے
شُو. ١١ تهٔ به هم لکه د نشيانو نشه شې، تهٔ به خپل ځان
پټوې او د دشمن نه به پناه غواړې. ١٢ ستا ټولې قلعه ګانې
لکه د اينځر د هغه ونو په شان دی چې وړومبۍ مېوه يې پخه
وی، کله چې دا وخوځولے شی، نو اينځر يې د خوړونکی
خولهٔ کښې راوغورزيږی. ١٣ خپلو فوجيانو ته وګوره،
هغوئ ټول لکه د ښځو په شان کمزوری دی. ستا د مُلک
دروازې، ستا دشمنانو ته خلاصې دی. اور د دې اړمونه
سوزولی دی. ١۴ د محاصرې دپاره اوبهٔ ډکې کړه، او خپلې
مورچې مضبوطې کړه. خټه جوړه کړه، په پښو يې نرمه کړه،
د خښتو د جوړولو دپاره يې تياره کړه. ١۵ خو اور به تا
وسوزوی، تُوره به دې په مينځ دوه کړی. دشمن به دې لکه د
قحطۍ د مُولخانو په شان وخوری. تر دې کهٔ تاسو د قحطۍ
مُولخانو په شان ډېر هم شئ خو د تښتېدلو لار به مو نهٔ وی.
١٦ تا د خپلو سوداګرو شمېر زيات کړے دے تر دې چې د
هغوئ شمېر د آسمان د ستورو نه هم زيات دے، خو لکه د
مُولخانو هغوئ زمکه صفا کړی او بيا والوځی او لاړ شی.
١٧ ستا محافظان د قحطۍ د مُولخانو په شان دی، او ستا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آفسران د قحطۍ د مُولخانو د لښکر په شان دی چې په ژمی
کښې په دېوالونو کښېنی. خو کله چې نمر راښکاره شی نو
دوئ والوځی او لاړ شی، او چا ته نۀ معلومېږی چې چرته
ځی. ۱۸ اے د اسوریې بادشاه، ستا د قوم شپونکی اودۀ
دی، ستا مشران د آرام دپاره پراتۀ دی. ستا خلق په غرونو
خوارۀ وارۀ شوی دی او څوک نشته چې دوئ رایوځائ
کړی. ۱۹ ستا زخم هیڅ یو څیز هم نۀ روغوی، ستا زخم
وژونکے دے. هر څوک چې ستا په حقله ستا په راغورزېدو
خبر شی هغه لاسونه پړقوی، ځکه داسې څوک نشته چې ستا
د نۀ ختمېدونکی ظلم نه خلاص شوی وی.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.